# د کورنۍ د چمتووالي لارښود



## د کورنۍ چمتووالی څه شی دی؟

- د کورنۍ چمتووالی دا معنا لري چې مخکې له مخکې قانوني، مالي او د سرپرستۍ (پاملرنې) اړوند پلانونه جوړ کړئ. په دې ډول، که یو څوک ونیول شي یا له هېواده وشړل شي، د هغه ماشومان، خپلوان او مهم کارونه به خوندي وي.

## دا چمتووالی ولې مهم دی؟

- بې له چمتووالي، کورنۍ له جدي ګډوډۍ سره مخ کېدای شي؛ ماشومان له خپلو والدینو جلا کېدای شي، سپما شوې پیسې د لاسرسي وړ نه پاتې کېږي، او خپلوان به د قانوني بهیر پر وړاندې له ستونزو سره مخ وي. که څه هم هېڅ ډول چمتووالی دا خطرونه په بشپړ ډول له منځه نه شي وړلی، خو د کورنۍ د چمتووالي پلان ستاسو د خپلوانو لپاره اړین معلومات او وسایل برابروي څو یو بل ښه وساتلای شي.

## خپل حقونه وپېژنئ

- د خپلو حقونو پېژندل او پر دې پوهېدل چې کله او څنګه یې وکاروئ، کولای شي تاسو له نیول کېدو څخه وژغوري. نور معلومات دلته پیدا کړئ.

د قانوني حقونو د پېژندنې لارښود

## د بیړني حالت د ارتباطي کس(انو) موندل

- ستاسو د بیړني حالت ارتباطي باید یو د باور وړ بالغ کس وي، داسې څوک چې تاسو باور پرې لرئ او که تاسو ته څه پېښ شي، ژر او په مسؤلانه ډول به عمل وکړي. د هغه د کړوالۍ حالت ته پام کول ډېر مهم دي؛ که هغه خپله هم د نیول کېدو له خطر سره مخ وي، نباید د باور وړ مناسب انتخاب ونه‌ګرځي. په یاد ولرئ چې تاسو کولای شئ له یوه څخه زیات د بیړني حالت ارتباطي کسان ولرئ؛ دا کار تاسو ته -په ځانګړې ډول که یو څوک د اړتیا پر وخت د لاسرسي وړ نه وي- د لا انعطاف او اضافي خوندیتوب فرصت درکوي. ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو د بیړني حالت ارتباطي ژر تلیفون ته ځواب ورکوي. هغوی باید ستاسو A#، د زیږون نېټه او د اصلي هېواد معلومات ولري، څو وکولای شي تاسو د توقیف په سیسټم کې ومومي. لاندې د بیړني حالت د ارتباطي کس د عامو مسؤلیتونو بېلګې دي:
- ستاسو مهم اسناد راټولول؛
- ستاسو د کورنۍ غړي خبرول؛
- د کډوالۍ له یوه وکیل سره اړیکه نیول او ستاسو د دفاع لپاره اسناد سپارل؛
- ستاسو کار ګمارونکی خبرول؛
- ستاسو کورنیو ژوو ته پام کول او ستاسو په نشتون کې ستاسو د کور اړینې اړتیاوې پوره کول؛
- ستاسو د ماشومانو پاملرنه کول؛
- ستاسو مالي چارو ته رسېدګي.

څه شی دی؟ A#



## یو څوک وټاکئ چې ستاسو د ماشومانو پاملرنه وکړي

- له بده مرغه، د ICE چاپې او نیونې ډېری وخت د ماشومانو او مور و پلار تر منځ بېلتون رامنځته کوي. که تاسو له مخکې یو پاملرونکی وټاکئ، ستاسو د ماشومانو دا چانس زیاتېږي چې ان د جلا کېدو په حالت کې هم پاملرنه ترلاسه کړي. له ډېرو اسانو فورمو څخه یوه «د والدینو د ټاکنې فورمه» (OCFS-4940) فورمه ده. دا فورمه تاسو ته دا اجازه درکوي چې یو کس وټاکئ تر څو ستاسو د ماشوم د زده‌کړې او روغتیا اړوند بنسټیز کارونه ترسره کړي؛ لکه له ښوونځي څخه د ماشوم راوستل یا ډاکټر ته وړل. د دې فورمې لاسلیکول د والدینو په توګه ستاسو حقونه نه ختموي؛ ټول حقونه مو خوندي پاتې کېږي.

## خپله قضیه وګورئ

- زده کړئ چې څنګه کولای شئ خپله قضیه د محکمې په سیسټم کې ومومئ. د دې لپاره acis.eoir.justice.gov ته لاړ شئ، یا (800) 898-7180 شمېرې ته زنګ ووهئ او خپل A# نمبر او د اصلي هېواد نوم ورکړئ، څو ستاسو د راتلونکې محکمې نېټه او دا چې ایا ستاسو د ایستلو (اخراج) امر شوی که نه، تایید کړئ..

د ایستلو امر څه شی دی؟

NYIC

*This guide is for informational purposes only. It is not legal advice. If you have questions about your rights, your family situation, or your immigration case, you should speak with a qualified immigration or family law attorney, or an accredited representative.*

NEW YORK STATE Department of State Office for New Americans

New Americans Hotline: 1-800-566-7636
Monday – Friday, 9 AM–8 PM EST
MULTI-LINGUAL AND CONFIDENTIAL

Updated on 12/08/2025

# د کورنۍ د چمتووالي لارښود

## خپل اسناد او مدارک ترتیب کړئ




- د خپلو ټولو مهمو اسنادو څو کاپۍ واخلئ. د دې تر څنګ، د اسنادو برېښنايي یا ډیجیټل (سکن شوې) کاپۍ هم تیارې کړئ. (تاسو کولای شئ په تلیفون د خپلو مهمو اسنادو انځورونه واخلئ)
- اصلي اسناد او لږ تر لږه یوه کاغذي (پرینټ شوې) کاپي په خوندي ځای کې وساتئ.
- د خپلو ماشومانو د اسنادو کاپۍ هم واخلئ او ډاډ ترلاسه کړئ چې د لاسرسي وړ وي؛ د بېلګې په توګه، د خپل ماشوم د شا بکس کې په یوه دوسیه کې یې کېږدئ.
- که اړتیا ولرئ چې د قانون پلي کوونکو افسرانو ته یو سند وښیئ؛ هڅه وکړئ خپل تلیفون ورنه‌کړئ، ځکه په تلیفون کې مو کېدای شي داسې شخصي معلومات وي چې نه غواړئ له دغو افسرانو سره یې شریک کړئ.

## د خپل اصلي هېواد د سفر اسناد ترلاسه کړئ

- تاسو کولای شئ –که خوندي او ممکنه وي- د ځان او خپلو ماشومانو لپاره پاسپورټ یا د سفر سند ترلاسه کولو لپاره غوښتنه وکړئ. دا کار کولای شي ستاسو د سفر اسانه کړي او هغه وخت مو له ستونزو وژغوري چې که اړتیا وي چې له امریکا ووځئ. خو د ځینو کسانو، لکه پناه‌غوښتونکو، لپاره د خپل اصلي هېواد د پاسپورټ ترلاسه کول یا نوي کول خطرناک کېدای شي. نو له دې ګام مخکې، له یوه باوري قانوني مشاور یا وکیل سره مشوره وکړئ. د خپل اصلي هېواد د سفر سند د ترلاسه کولو په اړه نورو معلوماتو لپاره، باید له خپلې قونسلګرۍ سره اړیکه ونیسئ یا د هغوی وېب‌پاڼه وګورئ.

## پیسو ته د لاسرسي ممکنول

- خپلې سپما شوې پیسې په بانکي حساب کې وساتئ، پر نغدو پیسو تکیه مه کوئ. د توقیف یا نیول کېدو په حالت کې کېدای شي د تلیفون کولو یا د اړتیا وړ توکو اخیستلو لپاره تاسو ته پیسې پکار شي.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې ستاسو بانکي حساب له یوه ډیبیټ کارت (Debit Card) سره وصل وي، څو تاسو - یا ستاسو کوم باوري کس- وکولای شي د اړتیا په صورت کې ان له هیواده بهر پیسې وباسي.
- د انلاین بانکولۍ سیستم مخکې له مخکې فعال کړئ، څو وکولای شئ له لرې لارې خپل حساب ته لاسرسی ولرئ.
- تاسو کولای شئ یو باوري کس د خپل حساب شریک وټاکئ، څو ستاسو د نه توانېدو په صورت کې، ستاسو کورنۍ وکولای شي پیسو ته لاسرسی ومومي.
- هر وخت د امکان په صورت کې پیسې سپما کړئ؛ ان یوه کوچنۍ اندازه پیسې هم ډېر مهم بدلون راوستلی شي.



## دا فورمې له مخکې چمتو کړئ

- ستاسو د شخصي معلوماتو فورمه
- د خپل ماشوم د مهمو معلوماتو فورمه
- د معاش اخیستو اجازه‌لیک
- د ماشوم د سفر اجازه‌لیک
- د کمکي یا احتیاطي حالت د سرپرستۍ فورمه
- د والدینو د ټاکنې یا تعین فورمه
- د ماشومانو لپاره د امریکایي پاسپورټ غوښتنلیک
- د دغو فورمو په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره، زموږ «د کورنۍ د چمتووالي د فورمو لارښود» وګورئ.

## د اسنادو دفتر یا نوټرۍ ته د مراجعې یادونې

- ځینې فورمې د اسنادو د دفترۍ یا نوټرۍ تصدیق ته اړتیا لري. په نیویارک ایالت کې د اسنادو د دفتر فیس د هر لاسلیک لپاره حد اکثر 2$ دی. کورنۍ کولای شي د اسنادو دفتر خدمتونه په عامه کتابتونونو، بانکونو، د UPS یا FedEx په ځینو دفترونو، او یا هم په Walgreens درملتونونو کې ومومي. موږ کورنیو ته سپارښتنه کوو چې له درغلۍ څخه ځان وساتي؛ د یادونې وړ ده چې د امریکا نوټرۍ یا د اسنادو دفترونه وکیلان نه دي او د کډوالۍ قانوني مشوره نه شي ورکولای.